دَ پښتو په تاریخ کښې په اول ځل
دَ قربانې دَ اهم مسائلو بیان په شعرونو کښې

# مسائل دَ قربانی

لیکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

ناشر


## اسلامی ادبی تولنه

یونیورسټی روډ مردان

0312- 9818511


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

وصلی اللّٰه تعالیٰ علی النبی الامّی

# تمهيد

په نامو کښې چې عظيمه ښه نامه ده
ابتدا مې دې کتاب کښې ورسره ده
دَ رحمت دَ برکت په ژوند سبب دے
هغه نوم حُسن ښُکلا دَ هر مکتب دے
ابتدا مې دَ اللّٰه په نوم کتاب کښې
دَ برکت دَ پاره ليکم په دې باب کښې
وربسې په مصطفیٰ ﷺ ليکم سلام
دَ رحمت سيورې په مونږه دے تمام
بيا درود ورسره ليکم خامخا
نوم چې راشی هر کله دَ مصطفیٰ ﷺ
تذکره وربسې کوم دَ صحابهؓ
هر عمل زهٔ يادوُم دَ صحابهؓ
تابعينؒ به رانه هيڅ کله هير نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهترین به رانه هیڅ کله هیر نشي

وریسي زما آغاز ددي کتاب دے

هر یو حرف ئي قیمتي دے لاجواب دے

چي دولت لري دُنیا کښي دَ اسلام

خامخا مني هغه تمام احکام

یو حکمونو کښي حکم دَ قرباني دے

ښۀ سبق په کښي موجود دَ زندګي دے

په حکمونو کښي چي حکم قرباني ده

طریقه دَ ابراهیم عظیم نبیؑ ده

طریقه دَ محمد رسول الله ﷺ ده

بهترینه طریقه ده ښه اعلاده

طریقه دَ صحابهؓ ، دَ هر امام ده

قدرمنده د دُنیا په هر مقام ده

مذهبونو کښي ددي اثر هم پروت دے

تاریخونو کښي ددي اثر هم پروت دے

هر ملت کښي څه نه څه ددي وجود شته

رضا دي سره هرخواته د معبود شته

..........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ قرباني ابتدا

کتابونو کښي ليکلي دَ تاريخ دی
بيانونه مالوستلي دَ تاريخ دی
دا ليکلي علماء ددي اُمت
واقعه بيانومه حقيقت
دوه ځامن وو دَ آدم عليه السلام
په وطن وو دَ آدم عليه السلام
خبردار شه دَ يو نوم په کښي قابيل ؤ
دويم يادشوي په نامي سره هابيل ؤ
اختلاف راغي ددوی مينځل کښي يَو ځل
نو دوی خپل مينځ کښپدا اُوکړ ځولو حل
دَ خپل مال نه يو حصه به مونږ قربان کړو
مخامخ به ئي مولا ته په ميدان کړو
فيصله به مونږ کښي اُوکړی رب مولا
چي په حقه باندي څوك دی په دُنيا
دواړو مخکښي خپل مولا ته کړل ځيزونه
اُوس دَ چا به قبلوی رب عملونه

قابیل وړاندي کړه دَ فصل یو حصه
غوښتل ده په خپله حق کښي فیصله
هابیل وړاندي کړۀ یو سخي خالق مولا ته
بیا اُوچت کړل دوی لاسونه خپل دُعا ته

دواړه وو په انتظار دَ فیصلي
ولاړ رب ته په دربار دَ فیصلي
ناګهانه له اسمانه راغے اُور
دا په حکم له رحمانه راغے اُور

ځناور شو دَ هابیل ایره ایره
ورسره دَ مولا اُوشوه فیصله
دا ساعت شولو ګویا هلته هابیل
ورته غوړ نیولو وونزدي قابیل

مولا کړے زما حق کښي فیصله ده
تالیدلے په میدان دغه ایره ده
فیصله اُوشوه په حق کښي زما وروره !
فیصله ته دَ مولا په غور اُوګوره

کۀ په ماندي نن وار کوے څه ظلم
یا په ما کۀ سخت ګزار کوے څه ظلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ بــه تــاتــه درنــزدي نــكــړمــه خپــل لاس
زۀ نــاكــام نــۀ يم عــمــل كښــي يــمــه پــاس
دَ خپــل ظــلــم بــه پــه خپلــه ذمــه دارئــي
پــه نــاحــق قتــل ســره بــه ګــنــاه ګــارئــي
فيــصلــه دَ هــابيــل حــق كښــي وروره راغلــه
فيــصلــه دَ هــابيــل حــق كښــي ګـوره راغلــه
ابتــدائــي لــه هــابيــل نــه پــه دُنيــا ده
قــربــانــي قبــولــي شــوي اول دا ده
ډيــر خــوشــحــالــه ورســره شــولــو هــابيــل
بــل طــرف تــه نــامــراده شــو قــابيــل
ابتــدا دَ قــربــانــي لــه دي ســاعــت نــه
ځــان خبــر ســاتــه پــوره لــه شــريــعــت نــه
دا احــمــده ! مــخــتــصــر ددي تــاريــخ دے
دا احــمــده ! مــعــتبــر ددي تــاريــخ دے

..............................

## دَ قرباني معنىٰ او مفهوم

خپــل خــالــق خــوشــحــالــوُل دی پــه ايثــار
قــربــانــی دغــه مــفهــوم لــری هــر بــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلالول دي ځناور په شريعت کښې
مال دولت دي قربانول په محبت کښې
دا مفهوم دَ قرباني دلته کښې عام دے
شوي امر مسلمان ته دَ اسلام دے
قرباني کله نه کله دَ بچو وي
ددين زده کړه چې کوي تل دَ ورو وي
قرباني کله نا کله دَ خپل ځان وي
شهادت داسې مرګ هر خوا په جهان وي
قرباني ده قرباني دا قرباني
بندګي ده بندګي دا بندګي

..............................

## دَ قرباني کولو اهميت

فضيلت دا په اسلام کښې لري ډير
دَ اسلام په شعائرو کښې دے شمير
شريعت کښې دا مالي دے عبادت
بهترين شه مثالي دے عبادت
دليلونه په دي ډيري آياتونه
شته په دي خبره ډير زيات حديثونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حديث مبارك مفهوم

يـــوه ورځ دَ خـــوږ نبـــی ﷺ خـــوږو يــــارانـــو
تپوس اُوکـړو خپـل مـحبوب ﷺ نـه (شـاګـردانو)
حـقيـقـت دَ قـربـــانـو راتـــه بيـــان کـړے
(ښــه پـوره پـوره مـونږ پوهـه پـه جهان کـړے)
اے دَ پـــاك الـلّـــه رسـولـــه پيـغـمبـره ! ﷺ
(مـونـږه تـول ئـي لـه ثـواب يُـو نـاخبـره)
پـاك حـضـور ﷺ چـي ددوی اُلـيـدهٔ طـلـب
خپـل اصـحـابؓ تـه شـو پـه مينـه مـخاطـب
دا دَ ابـــراهيـمؑ نبـــی (ښــــه) طـريـقـــه ده
(روحــــانــی ســمـــه دَ پـلار د دوی رشتـــه ده)
(ستـــاســو دوی ســره دَ پـلار پــه شـان رشتـــه ده)
دَ نبــی خــوږو يــــارانــو اُوکـــړهٔ ســوال
زمـونږ دي کبنـي څـه حصـه ده (کـال پـه کـال)
مـونـږ دَ پـاره پـه کبنـي څـه بـرخـه نبی ﷺ ده
دا چـي دلتـــه کبنـي زمـونـږه قـربــانـی ده
پـاك رسـول ﷺ ورتـــه (ښـکـاره) ورکـړهٔ جـواب
يـو نيــکـــی دَ هـــرويـــختـــه بـدل ثـــواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيــاتپــوس اُوكــړۀ دَ پــاك نبــى ﷺ دوستــانــو
دَ ويــختــو بـــه څـــه وى حــكــم دَ كــډانــو؟
دغـــــه حـــكـــم دے دَ هـــرويـــختـــــه ثـــواب
يـــونـــكـــى بـــدل ئـــي دے پـــه هـــريـــو بـــاب
دا مـــفـهـــوم دَيـــو حـــديـــث نـــه نــقــل شــوے
حــق مــعــلــوم دَيـــو حــديــث نـــه نــقــل شــوے
تــر مــفــهــومــه دغـــه يـــاد ســاتـــه دُنيــا كښـي
څـــه كــمـــي بيشـــي كـــه وى زمـــا ويــنــا كښـي
نـوركــه غــواړے څـه تـفـصيـل عـالـم لـه لاړ شـه
حــكــم نــه بـــه تبــديــل عــالــم لـــه لاړ شـــه
پـــه الـــفـــاظـــو دَ حــديــث بـــه تـــا خبـــر كـــړى
مستـــحـــق بـــه څـــان دَ اجـــر بـــرابـــر كـــړى

..............................

## دا دَ چا طريقه ده؟.......... نظم

طـــريـــقـــه دَ مـــحـــمـــد خيـــر الـبشـــر ﷺ ده
قـــربـــانـــيـــچـــي دا مـــوجـــود پـــه لـــر او بـــر ده
دا ســـنـــت دَ ابـــراهيـــم عـــليـــه الســـلام دى
انـــوارات ئـــي دَ دُنيـــا پـــه هـــر مـــقـــام دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــور رنـــا دَ هـــر يـــوکـــور دا دَ ســـحـــر ده
طـــريـــقـــه دَ مـــحـــمـــد خـيـــر الـبـشـــر ﷺ ده

دَ حـضـــرت اســمـــاعـيـــل ؑ دا دي تـول يـــادونـــه
چـــا کـتـــلـــي کـــړه وي غـــټ غـــټ کـتـــابـونـــه

پـــرده سـتـــا ولـــې پـــرتـــه دي پـــه نـظـــر ده ؟
طـــريـــقـــه دَ مـــحـــمـــد خـيـــر الـبـشـــر ﷺ ده

دَ حـضـور ﷺ ښـکـلي سيـرت کـښـي دا مـوجـود ده
دَ حـضـور ﷺ دي شـريـعـت کـښـي دا مـوجـود ده

سـتـــا ويـــنـــا احـــمـــده ! حـــق ده مـــعـتـبـــر ده
طـــريـــقـــه دَ مـــحـــمـــد خـيـــر الـبـشـــر ﷺ ده

.................................

## وخت دَ قرباني

دَ لـــس تـــاريـــخ نـــه پـــس تـــر دولـــسمـــه
خـــامـخـــا بـــه قـــربـــانـــي پـــه کـښـــي کـوُمـــه

کـــه تـــوفـيـــق راڅـــه مـــولا ذوالـجـــلا ل راکـــړه
مـــال ئـــي دومـــره قـــربـــانـــي لـــه حـــلال راکـــړه

پـــه لـسـم ذي الـــحـــجـــه غـــوره قـــربـــانـــي ده
دغـــه حـــکـــم دَ اســـلام دے سـتـــا مـــرضـــي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ لسم تاريخ نه پس يووولسمه
غوره بيا دغه نيټه ده ياد ساتمه

بيا جائز په دولسم تاريخ روا ده
قرباني دَ ابراهيم نبيؑ ادا ده

نقل کيږي دَ نبيانو اداګاني
دَ اسلام دَ شريعت دي رڼاګاني

اسماعيلؑ دَ ابراهيم دَ ژوند حصه ده
دَ پلار څوي دَ ژوند عظيمه نمونه ده

هر حصه دَ شريعت ښۀ نوراني ده
دَ ورور خيال ساتل اصل مسلماني ده

پوره دري ورځي دوه شپي دَ قرباني دي
عبادت له غوره دا په زندګي دي

دغه حکم طريقه دَ صحابهؓ ده
په محشر کښي ددي کار لويه بدله ده

.......................................

## نصاب دَ قرباني (مختصربيان)

چي مالك وي دَ دوۀ نيمو تولو سرو څوك
يا مالك وي دَ مخصوص رقم پيسو څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library


دَ دوه نيم پنځوس چاندي كڼه څوك مالك وی
دَ روپو دومره دَ نقدي چي څوك مالك وی
يا مالك دَ تجارت چي وی دَ مال
دا نصاب پوره پوره ساتی سنبهال
رسيدلے چي نصاب ته دغه مال وی
دهٔ سره چي ذخيره ، محفوظ سنبهال وی
واجب ده باندي اختر كښي قرباني ده
دَ اسلام په تول پوره دا زندګي ده

.............................

## مالك دَ نصابڅوك دے ؟ (تفصيلي بيان)

چي مالك وی غټ اختر كښي دَ نصاب
ځان دي پوهه كړی په دي پوره حساب
هله دهٔ باندي لازم به قرباني وی
دَ نصاب مال ورسره چي يقيني وی
سرهٔ ووه نيم تولي نصاب په هر قدم دے
دا كامل نصاب اول په دي عالَم دے
يا دوه نيم پنځوسه سپين لری دُنيا كښي
يا مالك ئي دَ رقم وی په سودا كښي

ورسره کۀ یا وی مال دَ تجارت
مقرر نصاب ته رَسي ئي قیمت
دَ سرو سپینو بل دَ مال شولو نصاب
هغه مال چي تجارت کښي وی حساب
څلورم چي دَ نصاب پوره قیمت وی
ورته هیڅ قسمه ددۀ نه څه حاجت وی
دا مالدار دے په مالدار ده قرباني
کله پاتي له هوښیار ده قرباني ؟
قرباني کښي نصاب هغه معتبر دے
کوم نصاب دَ سرسائي چي مقرر دے

..............................

## دَ وُجوب شرطونه

مسلمان کۀ ناریته یا زنانه وی
ورسره چي دَ دولت مخصوص حصه وی
دَ نصاب چي مساوی لري څوك مال
دا عمل دي یو ځل دي کوی هر کال
چي په عقل ښه پوره وی برابر
مجنون نه وی په دُنیا هغه بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه مــاشــوم وی داســي وائــی عــلــمــاء
پــوخ بــالــغ وی سبــق ښــائــی عــلــمــاء
مســافــر نــه تپــوس نيشتــه اٰخــرت کښــي
دغــه شتــه پــه هــر مــقيم پــه شــريــعت کښي
پــه غــلام بــانــدي واجــب نــه ده دُنيــا کښــي
نيشتــه نيشتــه دے هيڅ شك زمــا ويــنــا کښــي
ورتــه وايــو مــونــږ عــمــل دَ قــربــانــي
دا شــرطــونــه دی تــول تَــل دَ قــربــانــي

..............................

## دَ قرباني مقصد

دَ مــولا رضــا مــقــصــد دَ قــربــانــي دے
دا مــقــصــد زمــونــږ تــمــام دَ زنــدګــي دے
کــامــيــابــی دَ اٰخــرت پــه دي مــقــصــود وی
بــس راضــی ورســره مــونــږ نــه چي مــعبــود وی
دَ جــنــت حــصــول مــقــصــد ئي دَ عَــالــم دے
قــربــانــي والا چــي دا ابــن اٰدم دے
دَ تــقــوىٰ حــصــول مــقــصــد لــری مــدام
قــربــانــی پــه هــر طــرف پــه هــر مــقــام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مقصد دَ قربانۍ احمده ! تېول
دا مقصد دَ بندګۍ احمده ! تېول

................................

## دَ قربانۍ فائدې

دُنيا مينه په دې سره ختمېږي
تعلق دَ اخرت سره جوړېږي
هم په خپله هم په بل کوي خوراك
داسې دلته کښې دے تل کوي خوراك
په صدقه کولو زړونه بيدارېږي
تعلق دَ اخرت سره جوړېږي
ځان دَ رب په هريو حکم قربانول وي
خپله ځان په خپل عمل سره درونول وي
دَ الله په دې عمل سره خوښېږي
تعلق دَ اخرت سره جوړېږي
سخاوت راپيداکيږي په مالدار کښې
اطاعت راپيداکيږي په مالدار کښې
دَ بخل لاره په دې سره بندېږي
تعلق دَ اخرت سره جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربانۍ سره ډیر خلق په روزګار شي
داسې ډیر شته په دې ورځو کښې مالدار شي

دا نظام دَ پاک الله په دې چلیږي
تعلق دَ اخرت سره جوړیږي

طلبا سره امداد کیږي هرخواته
علماء سره امداد کیږي هرخواته

مدرسو ته چې څرمنې راغونډیږي
تعلق دَ اخرت سره جوړیږي

یا دیتیم وي هر مالدار ته دغه وخت
یا دیتیم وي هر هوښیار ته دغه وخت

په امداد یتیمان ډیر خوشحالیږي
تعلق دَ اخرت سره جوړیږي

ښه ښه هرطرف ته عام وي خوراکونه
ښه ښه بیا په هر مقام وي خوراکونه

څناور ، بره مارغان په کښې مړیږي
تعلق دَ اخرت سره جوړیږي

ذریعه دَ محبت دا قربانۍ دی
وسیله دَ محبت دا قربانۍ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښي خپلو کښي چي کله تقسيميږي
تعلق دَ آخرت سره جوړيږي

دَ حرص ماده چي عام په هر طرف ده
دا فاسد ماده تمام په هر طرف ده

وُرو ورو دي سره له زړونو رخصتيږي
تعلق دَ آخرت سره جوړيږي

ډيري ډيري دا فائدي دَ قرباني دي
نموني احمده! دا دَ بندګي دي

رنځور زړونه تل په دي سره رغيږي
تعلق دَ آخرت سره جوړيږي

.................................

## دمعترضينو اعتراضات

دَ شيطان کار اعتراض دے وسوسي دي
ګمراه شوي دلته خلق ډير په دي دي

اعتراض کوُل چي دي کښي څه حکمت دے ؟
دا لاځنګه په دُنيا کښي عبادت دے ؟

رنګ په رنګ اعتراضونه دَ کفار دي
حقيقت کښي دوي دَ زړونو تول بيمار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـرعــي حــكـم كښـي دَ عـقـل دخـل نــه وي
بـي لــه سـوچـه شـرعـي حـكم منـل ښـه وي
دَ مــولا پــه هـغـي حـكـم كښـي څــه راز وي
بيــان شـوي كــه پــه هـرقسـمــه انـداز وي
سـتــرګـي پټـي كـړي مـنـي حـكـم هـوښيـار
شك كـوُل پــه حـقيـقـت كښـي دے انـكـار
نــاروا دے اعتــراض پــه شــريـعــت
اعتــراض دے پــه مــولا ربُّ الــعــزت
نــاروا هــراعتــراض پـه قـربــانـي دے
ښــه عــمــل زمــونــږه دا دَ زنـدګــي دے
دا چـي مـونـږ سـره مـوجـود دے دين پـه نـقل
دا تـلـم نـه زۀ احـمـدعـلـي پـه عـقـل
ديــنپــه پټـو سـتــرګـو زۀ مـنـم تـمــام
ګـواهــان دي اوُسـي دلتـه خـاص او عـام

..............................

## قرباني دَ چا ياد راتازه کوي؟

قــربــانـي كښـي دي يــادونــه دَ نبيــانـو
پـوره ځــان خبـرسـاتــئ . مسـلـمـانـانـو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ حضرت ابراهیم ښه طریقه ده
دا دَ حضرت اسماعیل دَ ژوند حصه ده
طریقه دَ محمد خیر البشر ﷺ ده
ذریعه دَ کامیابي په لر او بر ده
دَ نبي ﷺ ښه دَ دوستانو طریقه ده
دَ نیکانو صالحانو طریقه ده
امامان په دي عمل باندي خوشحاله
مسلمان په دي عمل باندي خوشحاله
دا واجب په هر مالداره مسلمان ده
دا ثابته له حدیثو، له قران ده
صحابهؓ ددي عمل دی ګواهان
ګټه، ګټه په کښي نشته هیڅ تاوان
دَ غریب انسان په دي سره مدد وی
ورسره دَ هغي کس رښا لحد وی
دا هر څه به وزن کیږي په میزان
قرباني چي دا څه وی په دي جهان
اے احمده! ښه عمل، ښه عبادت دے
نقل ډیرئي دَ کولو فضیلت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قرباني زمونږه دَ نبي ﷺ طريقه

دا چې کړے دلته کښې نن خاص او عام ده
طريقه دَ ابراهيم عليه السلام ده
دَ حضور ﷺ دَ پاك سيرت نه دا ثابته
دَ وليانو دَ اُمت نه دا ثابته
دا عمل دا طريقه اعلا اعلا ده
اخرت دَ پاره دغه نور رڼا ده

..............................

## دَ قرباني مخصوص ځناور

قرباني په اُوښې، اُوښ او په غوا کيږي
په غوئې، په هريو ميخې سنډا کيږي
په چيلې او په چيلې سره روا ده
قرباني په ګډې، ګډ سره هرخوا ده
نور که هرخومره خائسته وي قيمتي وي
خو روا په هغې کله قرباني وي؟
اُوسے هرخومره که ښکلي ده خائسته ده
خو ثابته قرباني کښې دغه نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلال هرڅومره کۀ نور تهول ځناور دي
ناروا پــه قربــانــي کښې سراسر دي
ځناور کۀ هغه بره تهول خصي وي
ورسره هغه نور زيات ښه قيمتي وي
ځکه غوره قرباني دَ هر خصي ده
شريعت کښې قرباني دا قيمتي ده

.................................

## عمرونه دَ ځاروُو

پــه دوه قسمه ځناور دَ قرباني وي
تاليدلي به دا تهول پــه زندګي وي
څه واړه دي ځني لوئي دي ځناور
عمر تهولو لــه دے دلته مقرر
ګډه ، ګډ ، چيلي ، چيلے ، پوره دَ کال
قرباني کښې مسلمان دي کوی خيال
دوه کلونه ښه پوره دَ غوا ، غوئي دي
دا عمرونه دميخي ، سنډا قوی دي
پنځه کاله عمر شرط دياوښ دَ پاره
په دي شرط سره دي کړۀ اُوښه تياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــول واړه دَ قـــربـــانـــي چـــي ځـــنـــاور دي
قـــربـــانـــي کښـــي دوی کـــافـــی لـــه يو بشـــر دي
دَ يـــو تـــن پـــــه دي ســـره قـــربـــانـــی کيـــږی
دوی کښـــي هيـــڅ کـــلـــه بل څوك نـــه شريـــکيـــږی
دويـــــمـــــــــه ډلـــــــــه ده دَ غټـــو ځـــنـــــاورو
پـــــه نـــصيـــب وی قـــربـــانـــی دَ بـــختـــورو
ځـــنـــاور غـــټ پـــــه شـــريـــکـــه حـــلاليـــږی
ووۀ حـــصـــي پـــــه کښـــي پـــوره پـــوره جـــوړيـــږی
ووۀ نـــــه زيـــات شـــريـــکـــان دلتـــه روا نـــه دی
ووۀ نـــــه زيـــات پـــــه جهـــان دلتـــه روا نـــه دی
پـــه کښـــي ووۀ تـــنـــه هـــرخـــواتـــه شـــريـــکيـــږی
خـــلـــق کـــم کـــۀ وی نـــو هـــم قـــربـــانـــی کيـــږی
شـــرط پـــه کښـــي دے چـــي حـــصـــه ئـــي کـــامـــلـــه
نـــه شـــے وروره ! پـــه کښـــي هيـــڅ کـــلـــه غـــافـــلـــه

...........................

...............

.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ قرباني دَ څاروُو عيبونه

..............................

## څلور قسمه عيب دار څناور ....؟

## زيات شَل/ګډُ څناور

چې ښکاره ئې تلل ګډ وډ وي په خپل کور
قربانی له څاوری اُلټه وه نور
چې لږ نه وي ښه ډير ګډُ وي څناور
چې پټ نه وي دغه عيب له يو بشر
قربانی ورسره دلته روا نه ده
دَ مولا ورسره دلته رضا نه ده

## ړوند څناور

بل چې ړوند وي ښه ښکاره په لراو بر
ورته نه ښکاری هيڅ څه هم په نظر
قرباني ورسره هيڅ کله نهٔ کيږی
څناور چې کله ته ويني خرخيږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډیر زیات بیمار څناور

څناور پوره بیمار په قرباني کښې
حلالول نه دي پکار په قرباني کښې

## ډیر کمزورې څناور

ورسره چې ډیر کمزوري په جهان وي
تش هډوکې په نظر چې دَ انسان وي
څناور چې دا لرونکي وي صورت
ناروائي حلالول دي دا ساعت
دا څلور قسمه راغلي يو حديث کښې
ما په غور سره لوستلي يو حديث کښې
بچ له دي نه خامخا شه قرباني کښې
قرباني چې کوې، خپله زندګي کښې
شته دے نور، چې ناروائي قرباني ده
له حکمت دَ احمد ډکه شاعري ده

..............................

...............

....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ځاروی دَ مختلفو حصو

## په قربانی کښې شرعی حکم

......................

### سترګې

چې په دواړو سترګو ړوند وی ځناور
قربانی دے په دې نه کوی بشر
که په یو سترګه وی ړوند هم ناروا دے
چا اخستې ځناور که دلته دا دے
چې پیدا شی بې له سترګو په جهان
جائز نه دے قربانې له دا حیوان
چې په سترګو وی بیماره ابدی
قربانی ورسره څنګه به کوی ؟
چې پردې لری په سترګو دَ نظر
ورسره قربانی نه کوی بشر
لږ کمې که راشی خیر دے په نظر کښې
ځناور دغه حلال کړه غټ اختر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره روا هرخوا ته قرباني ده
شريعت کښې ګراني نشته ، اساني ده

...................................

## غوږ / غوږونه

بې له غوږه يا غوږونو چې پيدا شي
قرباني ورسره کله به روا شي
هميشه دا ناروا دي قرباني کښې
حلالول دَ غټ اختر په خوشحالي کښې
چې غوږونو کښې سوري دريمه حصه وي
څنګ به ستا دَ حلالولو فيصله وي ؟
چې حصه دريمه کټ شوې دَ هر غوږ وي
قرباني چې کړي ورسره هغه ټيک وي
صورتونه قرباني کښې دا ممنوع دي
غټ عيبونه قرباني کښې دا ممنوع دي
دَ څاروي کۀ وي واړه واړه غوږونه
قرباني کښې دَ څاروو نه دي عيبونه
قرباني ورسره هرخواته روا ده
دَ اسلام دَ شريعت فيصله دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــه څـــه لږ شـان وي کمـي پـــه څـنـاور کـېـږي
قـــربـــانـــي ورســـره کيــــږي لـــرا و بـــر کـېـږي
لږ کـــۀ کــټ وي يـــا سـوري لږ وي غــوږونـــه
فيـــصـــلـــــه دَروا ليـــکـــي کتـــابـونـــه
ورســــره قــربـــانـــي کيـــږي هـــرطـــرف تـــه
دَ انســـان غـــاړه خـــلاصيـــږي هـــرطـــرف تـــه
کـــه کـــټ شـــوي وي غـــوږونـــه پـــه والاړه
پـــه دي خپـلـــه خـلاصـولـي شـــې تـــه غـاړه
کـــه پـــه اُور چـــا داغـــي کـري وي نـو خيـــر دے
کـــه پـــه کـور چـــا داغـــي کـري وي نـو خيـــر دے
قـــربـــانـــي ورســـره دلتـــــه کېږي روا ده
دَ اســـلام دَ شـــريـــعـــت فيـــصـــلـــــه دا ده

.................................

# خکر

مـــات چـــي کـلـــه څـنـاور کـري دَ سـر خـکـر
کـــۀ لـــه ويـــخ نـــه دغـــه خـکـر شـي رابهـر
نـــه دے نـــه دے روا دا پـــه قـــربـانـي کېږي
حـلال نـــه کـري درنـــه دا څـوك كـورنـي كېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــهٔ اثــر ئـــي ســـر تـــه نـــه وی رسيـدلـے
بـــره بـــره پـــاس لـــه ســـر وی غـــر ځيـــدلـے
ورســـره قـــربـــانـــي کـــولـے شـے هـــر خـــوا تـــه
مســـئلـــه دغـــه کـــړه وړانـــدي هـــر مُـلا تـــه
چـــي پيـــدا شـــی بـــي لـــه خـــکـــره ځـنـــاور
قـــــربـــــانـــــی دي ورســـــره کـــوی بشـــر
دَ خـــکـــر دريـــمـــه کـــه حـــصـــه وی غـــر ځيـدلـے
قـــربـــانـــی ورســـره دلتـــه شـــے کـــوُلـــے
دَ خـــکـــر پـــټ کـــهٔ غـــر ځيـدلـے پـــه جهـــان وی
ځـــاورے بـــچ ئـــي لـــه ضـــرره لـــه نقـــصـــان وی
ورســـره قـــربـــانـــی کيـــږی هـــرطـــرف تـــه
دَ انســـان غـــاړه خـــلاصيـــږی هـــر طـــرف تـــه

..................................

## غابنونه

دَ ځـــاوری چـــي اُوغـــر ځيـــږی تـــول غـــابنـــونـــه
پـــاتـــي ده نـــه شـــي وابـــه ، ټـــول خـــوراکـــونـــه
قـــربـــانـــی پـــه دي ځـــاوری بـــانـــدي نـــهٔ کيـــږی
نـــادانـــان دی چـــي پـــه دي هـــم نـــهٔ پـــوهيـــږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ څـاورې چـې اُوغـرځيـږي څـه غـاښـونـه
کيـاګـانـې خـوړل پـريـږدي نـور څيـزونـه
حـلالـول دا قـربـانـې کښـې نـاروا دي
ښـه ښـکـاره دَ شـريـعـت حـکـمـونـه دا دي
چـې پيـدا شـي نـه ئـې غـاښ نـه وي غـاښـونـه
ورتـه ګـران وي دَ جهـان خـوړل څيـزونـه
قـربـانـې هـم دي حـالـت کښـې نـاروا ده
فيـصـلـه دَ شـريـعـت ښـکـاره صـفـا ده
دَ څـاورې کـه اُوغـرځيـږي څـه غـاښـونـه
ورتـه ګـران نـه وي خـوړل پـه ژونـد څيـزونـه
پـه خـوراك سـره غټيـږي ښـه څـربيـږي
قـربـانـې پـه دي څـاورې سـره سـتـا کيـږي
کـه دا خـلـۀ ئـې لـه غـاښـونو نـه صـفـا وي
لـه کـوم وخـت نـه چـې څـاروي اخسـتـې تـا وي
خـو خـوراك هـغـه کـوُلـے پـه ښـه شـان شـي
دا روا حـلاليـدو تـه پـه ميـدان شـي
قـربـانـې ددي روا پـه هـر قـدم ده
دستيـاب کـۀ چـرتـه دا پـه دي عـالَـم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبه

چې لــه ژبې نــه مـحـروم غـټ څـنـاوروی
قــربــانــي ئــې نــاروا پــه لــر او بــروی
په دې شـرط ورتـه خـوراك چې كـلـه ګران وی
ورســره كـمـزوري شـوي كـۀ حيـوان وی
قــربــانــي د دې څــاوری بيــا روا نــه ده
دَ اســلام دَ شــريــعــت بيــا رضــا نــه ده
نـور دی هـغـه څـنـاور پـه كـائـنـات كښې
ژبې كټ لـری . نـه وی څـه مشـكلات كښې
ژبــه كــټ لـری مـحـروم لـه خـوراك نـه وی
جـائـز نـه وی . نو بل حكم بـه ئې څـه وی؟
پــه ورو ورو څــاروو كښې ګـنجـائـش شتـه
قـربـانـي كښې امـتـحـان شتـه آزمـائـش شتـه
كــه خـوراك كــړی ، ژبــه نـه لـری روا دی
دا حــكــمــونــه دَ اســلام تـمـام رښـا دی

................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپې

چې په خپو باندې وی شل کله روا دے
دستیاب څاروې که دلته کښې نن دا دے
دَ یو خپې نه که محرومه په دُنیا وی
حکم ده سره ترلې ناروا وی
په دریو خپو باندې چې تلل کوی په لاره
ناروا ده قربانی چې وی بیماره
څه لږ ګډ که وی روان نو دغه خیر دے
څه لږ ګډ که وی حیوان نو دغه خیر دے
شریعت کښې سختی نیشته چا دپاره
نه ده سخته ، نه ده نرمه ددین لاره

.................................

# لکې

دَ لکې دریمه حصه چې کله کټ وی
ګریدلے دَ لکې که څه لږ پټ وی
خیر دے خیر دے قربانې په دغې کیږی
که څاروی درته بس دغه ملاویږی

په لکي چي وي بوڼدي له نيمي زياته
خامخا دا بدي ښکاري تل له شاته
په دي کله قرباني دلته روا ده
مسئله دَ شريعت دغه صفا ده

..............................

## تي

چي اُوچ شوي دَ څاروي د پيو تي وي
قرباني به روا څنګ دلته په دي وي
په څلورو کښي کۀ دوا اُوچ وي دَ غوا
قرباني په دي کيدے نيشي روا
کۀ دَ ميخي تي دَ پيو دوه خراب شي
ناجائز په قرباني کښي به حساب شي
دغه حکم دَ هر غټ لوئي ځناور دے
هر هوښيار سړي پوره پوره خبر دے
په دوه تيو کښي يو خراب کۀ دَ چيلي وي
سلسله ورسره بنده چي دَ پي وي
قرباني ورسره نه کيږي انسانه!
دا خبره ده له مخکښي راروانه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــه حـکـم دے دَ ګـلهٔ ے شـریـعـت کښــي
خیـال کـوه چې دا حـلال نـه کړے غـفـلت کښـي

..............................

## لیوني

نــه پـو هیـــږي پـــه خـــوراك چـــي څـنــاور
مـــجــنـــون وائـــی ورتـــه دلتـــه هـــربشـــر
حـــلال نـــه دے قـــربـــانـــی کښـــي یـــو بشـــرلـــه
ثـــواب نیشـتـــه پـــه دي دلتـــه لـــراو بـــرلـــه
نـــاروا ورســـره دلتـــه قـــربـــانـــی ده
چـــي ئـــي غـوښـــه نـقـصـانـــی ده نـقـصانـــی ده

..............................

## خاربن

چـــي پـــه تـــن ئـــي لــګـیــدلـــے وی خـــاربن
بـــدرنګ کـــړے ئـــي تـــن ښـــکـــلـــے وی خـــاربن
ورســـره کـــمـــزوري شـــوي دا څـــاوري وی
قـــربـــانـــي روا بـــه دلتـــه څـنګ پـــه دي وی

..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خنثیٰ

نــه چې نـر وی نــه مــاده وی کـلــه ښــه وی
دا بــه ستا دلتــه کښې خوښ وروره ! پــه څــه وی؟
نــاجــائــز ئـي قــربــانــی ده هــر بشــرلــه
نــاجــائــز ئـي قــربــانــی ده لــراو بــرلــه

..............................

# کمزوري

چــې پــــه تــن وی ډیــر کــمــزوري څــنــاور
تــش هــډوکــی پــه کښې ښکاری پــه نظـر
جــائــز نــه ده قــربــانــی ورســره دلتــه
مــمــکــن نــه ده خــوشــحــالــی ورسـره دلتــه

..............................

# مکروهات دَ قرباني

چــې قــدرت پــه جــفتــې نــه لــری څــاوري
مــکــــروه دی کــــۀ چــرتـــه دا حــلالــوي
څــاروي هــغــه چــې بیــمــاره وی تــوبیــږی
قــربــانــې پــه دې مــرض مــکــروهــه کیــږی

دَ بچو رارړو چې نه لرې طاقت

مکروه ئې دی مکروه په دې اُمت

ورله داغ چې ورکړے شوي وی دُنیا کښې

قربانې ئې مکروه دلته ده هرخوا کښې

چې غلانځه کښې ئې پې نه پیدا کیږی

بې له عیبه کله کله ملاویږی

قربانې ئې ده مکروه هر یو بشر له

دا پیغام حق مسئله یو سه هر در له

ښاوري هغه چې بچې ورسره وی

چیلوکې، کټې یا سخې ورسره وی

قربانې ددې ښاروی هرخوا مکروه ده

قربانې ددې ښاروی صفا مکروه ده

که ښاوري دَ قربانۍ ګډه، چیلې وی

ډیره لنډه ورسره وروستو لکې وی

دا حالت د کراهت دے قربانې کښې

قربانول کۀ دغه غواړے خوشحالي کښې

چې ډیر کونړ نه وی ښاوري قرباني کیږی

قربانې په دغې عیب مکروه کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربانۍ ئې ده مکروه هر مسلمان له
قربانۍ له که چا راوستو میدان له
تل هغه څاروي چې ځی په څلور خپو ځي
بل چې ګډ په یوه خپه وی څناور
اخلې دي سره قدم په لر او بر
ورسره قرباني کیږی دا حیوان
قربانۍ دَ پاره دا په هر میدان
بینائی که وی کمزوري دَ څاروی
که وی لږه، بیا دي دا حلالوی
کراهت سره ددي قرباني کیږی
ذمه دي سره دَ هر بشر خلاصیږی
چې څه لږ غوږ ئې کټ شوي یا لکې وی
یا نظر ئې څه لږ کم وی نور په ځائې وی
کم له دریمې حصې نه چې کله لم وی
قربانۍ لره جائز په هر قدم وی
کراهت په دي خیزونو په کښې شته دے
راضی ځوك چې دَ خپل دین په فیصله دے
غوږ ځوُلی چې ئې څه لږ وی غابنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کم نه وی ورسره ئې خواراکونه
حلالول ئې دی جائز په قربانۍ کښې
کراهت ورسره شته په خوشحالۍ کښې
لیونې بل ځناور په لږ مقدار
چې خوراك نه پاتې نه وی کوی کار
دا مکروه په قربانۍ کښې لرا وبرله
دا مکروه په قربانۍ کښې هر بشرله
اختــه شوي په خارښ حسین حیوان
په وجود چې وی مضبوط بنه په جهان
مکروه دا په قربانۍ کښې حلالول دی
دا حکمونه دَ اسلام دَ مذهب تول دی
لږ کټ شوی کهٔ غوږونه دَ حیوان وی
حلالول دغه په مکروه په هر انسان وی
چې له دریمې حصې نه په مقدار کم وی
هلــه دلته حلالو ته به سَم وی
چې له دریمې حصې نه په مقدار کم وی
دَ ځاروی غوږ کهٔ څیرلې په عالم وی
قربانۍ ورسره هر خواته مکروه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پته معلومه هرچاته مکروه ده
چې په سترګو کښې ئې ګاټې وی بهينګا وی
مکروه دے ، کۀ څاوري هرڅو مره اعلا وی
دَ ګېډې، ګېډي صفا تبول کۀ وی بدن
ويخته نه لری صفائي وی بدن
ورسره دَ کراهت حکم مدام وی
قربانۍ کښې دغه حکم به تمام وی
ژبه کټ لری چيلي چې په دُنيا کښې
چا اخستي وی کۀ دغه په خطا کښې
ښه خوراك کوی ، ورسره تياريږی
ده مکروه ، خو قرباني په دغي کيږی
دغه حکم دَ هرګېډي مدام دے
نا خبر له دي خبره کۀ عوام دے
هغه اُوښ چې په ګندونو باندي پائې
قرباني ئې ده مکروه ، علماء وائې
لږ په تن وی چې کمزوري څناور
مکروه دا دی چې حلال ئې کړی بشر
دا چې تير شول مکروهات دَ قربانۍ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلف دَ ژوند حالات دَ قرباني دي

.............................

## خصي څناور قرباني کول

په خصي څناور کیږي قرباني
کوه دا کۀ ملاویږي قرباني
ښه صفت دے دغه عیب نه دے حیوان کښي
دا کۀ تاته شو ملاؤ په دي جهان کښي
قربانو کښي قرباني دغه ده غوره
حلالول ئي دي انسان لره بهتره

.............................

## دَ قرباني دَ ذبحي آداب

چي څاروی راغُرځیدلے په میدان وی
ښه مضبوط نیولے هرخواته انسان وی
بیا لګیا وی دَ چړي په تیرۀ کولو
تکلیف نه ویني هغه ددغي تهولو
مخامخ ورته چاړۀ چي تیرۀ کیږی
په څاروی به خامخا تکلیف زیاتیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ انسان دغه عمل مکروه دے دۀ له
دي حيوان له تکليف دي ورکوي څله
بل مکروه دي چې چاړۀ ددۀ وي پسه
ښه عمل شوروکوي چې دي له کسه
پريږدی دا انسان چې دلته چاړۀ کله
آله دا دَ ذبحې دي چې کړي بدله
عمل دغه دے مکروه دَ هر انسان
دا دَ ذبحې قرباني په هر ميدان
بل مکروه ، څرمن ويستل دی دَ حيوان
چې يخ شوي څاروي نه وی په ميدان
بل مکروه دی سرکټ کول له څناورنه
تل مکروه دی سرکټ کول له څناورنه
چې يخ شوي څاروي نه وی په ميدان
داسې نه دي کوي دلته يو انسان

..............................

## دَ قرباني دَ څناورنه فائده اخستل

دلته ناسته په هغې سورلی کول
بله دا په کرايه دا ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوجه په ملا ورته دُنيا کښې کيښودل
پې، ويخته ئې له بدن نه اخستل
چې اخستې قرباني له دلته چا وي
که ادنىٰ وي څناور او که ۀ اعلا وي
دا مکروه دي دا مکروه دي هر انسان له
دا مکروه دي دا مکروه دي مسلمان له

..............................

## څرمن، رسۍ او نور څيزونه صدقه کول

قرباني ته چې په غاړه دَ چيلي کړي
مستحب دي چې خيرات دغه رسۍ کړي
ميخه، غوا ورسره اُوښ تړلي کيږي
هر کله چې دا څاروي نن حلاليږي
نور څيزونه چې په تن دَ قرباني وي
خيراتي ورکول پکار دي که ۀ مري وي
خيراتي ورکول پکار ئې هم څرمن ده
بيش قيمته دلته کښې دغه دا نن ده
که تا خرڅه په دولت کړه د دُنيا
خيراتي دغه قيمت کړه د دُنيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه کول ورله واجب ددې قیمت دی
اخلي دا چې مستحق ئې هر ساعت دی

..............................

## څاروي دَ شپې حلالول

دا مکروه دی چې څاروي حلال دَ شپې شي
دا عمل به ئې لږ ډیر دَ خطرې شي
دا ممکن ده چې تهول کټ نه شي رګونه
او حرام شي ورسره حلال څیزونه
دا عمل دَ قربانۍ څکه مکروه دے
دا عمل تل یادوي څکه مکروه دے

..............................

## (ذبحه) څلور رګونه کټ کول

ګوره ګوره همیشه په غور رګونه
خامخا به کټ کوے څلور رګونه
دَ حلقوم، مرۍ په خوا کښې وَدَ جین
دوه رګونه په دُنیا کښې وَدَ جَین
کټ کول ئې دی لازم په قربانۍ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــالـيــدلـــى بـــه وى دا پـــه زنـدګـي کـښـــي

.............................

## غوښه

مستـحـب دى چـي دَ غـوښـې دري حـصـې شـى
ورســره چــي تـل خـوشـحـالــه خپـل پــردي شـى
يـو حـصـه بـه ئـي دَ کـور شـى قـربـانـي کـښـې
دا تـقـسيـم ورلـــه پـکــار دے زنـدګـي کـښـــي
دويـمـــه بـرخــه بــه تـقـسيـم کـړى خـانـدان کـښـې
خپـل خپـلـوان چـي وى دده پـــه دي جهـان کـښـي
دريـــمـــه بـــرخـــه دَ پـــردو غـــريـبـــانـــانـــو
دا دَ تـپــولــو عـــاجـــزانـــو مـــســـکـيـنـــانـــو
دا تـقـسيـم دے مستـحـب هـر مسـلـمـان لـــه
دا تـقـسيـم دلتـــه پـکــار دے هــر انســان لـــه

.............................

## څرمن

څـــرمــن حـق دَ هـــر غـــريـــب دے ورلــه ورکــړۀ
هــريــو حــکــم اسـلامـى تـــه ښـــۀ نـظـر کـړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدرسو سره په دغې امداد کيږی
ځکه دې کښې طالبان د دين اُوسيږی
مستحق که دے خپلوان دی اول دوی دی
مستحق که ګاونډيان دی اول دوی دی
يتيمانو له چې ورکړے خوشحاليږی
څه نه څه ورسره غم د دوی رُوکيږی
که غريب دَ محلې کلی امام وی
مستحق هغه هرخوا په هر مقام وی
که نوکر دَ چا غريب وی مستحق دے
دَ امداد په دې څرمن سره لائق دے
مصلَه تري جوړولے شے هم ځان له
دا اُوچولے شے خپل کور کښې دسترکوان له
که په خپله ستا پکاروی دا جائز دی
که ته غواړے په دُنيا کښې دا جائز دی
مستحب دی دا څرمن ورکول بل ته
هم پردو له ئې ورکولے شے هم خپل ته

.............................

...............

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کومو عیبونو سره چې قربانیږی نه کیږی

دوه قسمونه دَ عیبونو په جهان دی
پېژندل ئې ضروری په مسلمان دی

یو واړه واړه عیبونه دُدُنیا وی
څناورو کښې چې دلته په هرخوا وی

داسې قسمه چې عیوب وی څناور کښې
قربانی ورسره کیږی لراوبر کښې

ورسره دَ کراهت حکم مدام وی
چې خبر له خپله دینه له اسلام وی

دویم قسم دَ لویو لویو دے عیبونو
نقل کړے تولو لویو کتابونو

چې غټ عیب وی زما وروره! قرباني کښې
ناجائز دے ورته ګوره قرباني کښې

جائز نه دی حلالول ئې غټ اختر کښې
چا سره چې وی موجود په لراوبر کښې

## مجنون

دَ مجنون قرباني کله وروره کیږی
په خوراك څکاك څناور چې نه پوهیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مـجـنـون دے دا نـاقـص دے ځـنـاور
څـنـګ بـه دا حـلالـوی دلتـه بشـر
لیـونتـوب سـره رُو روُکـمـزوري کیـږي
نـاجـائـز دے کـهٔ دا تـاتـه مـلاویـږي

## خاربښ ولا ځناور

چـي پـه تـن ئـي وی خـاربښ کـلـه روا دے
قـربـانـی لـه کـه راوستے دلتـه چـا دے
ورسـره کـمـزوري شـوي ئـي بـدن وی
دا خـاربښ چـي لـګـیـدلے ئـي پـه تـن وی
پـه هیـڅ شـان بـه روا نـه شـی قـربـانی کښـي
کـه پـه تـا بـاندي شی پیـښ پـه زنـدګي کښـي

## ړوند

نـه پـه ړونـد قـربـانـی کیـږی پـه دُنیـا کښـي
چـي تـا نـه وینـی ولاړ وی ستـا پـه خوا کښـي
دا لـوئـي عیـب دے پـه څـاروی کښي ښـه عیـان
دا بـه څـنـګـه قـربـانـی کـړی مسـلـمـان؟

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمزوري

چي کمزوري وي په تن هم ناروا دے
قرباني له چا اخستي که نن دا دے
په کښي ښکاري چي د تن ئي تول هډوکي
په کښي ښکاري دَ بدن ئي تول هډوکي
روا نه ده قرباني ورسره دلته
روا نه ده خوشحالي ورسره دلته
په وجود باندي حسين څاروے پکار دے
ښه اعلا ښه بهترين څاروے پکار دے

# شَل / ګډ

نه دَ ګډ څاروي روا ده قرباني
که اخستي دلته تا ده قرباني
چي قدم ته اُوچتولے نه شي خپه
مکمل شَله ئي وي دغه حصه
قرباني ورسره کله رُوا کيږي ؟
په ګاوند کښي تا ته دا کۀ ملا ويږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوږ / غوږونه

غوږ چې دریمه حصه کټ دَ څناور وی
لري دي نه قربانی کښې هر بشر وی
په دي نه کیږی دُنیا کښې قربانی
کهٔ ارزان وی په سودا کښې قربانی

# لکی

لکې دریمه حصه کټ چې په جهان وی
ناجائز په قربانی کښې دا حیوان وی
چې حلال شی دَ ثواب په نیت اختر کښې
بیا تو بنه شی ستا دَ پاره په محشر کښې

# دَ پیو تی

چې دَ پي رګونه بند دَ څناور شی
ناورا په دي نقصان په لراو بر شی
دوه تی بند چې دَ غلانځی وی دَ غوا
قربانی کښې هیڅ کله نه ده روا
دغه حکم دَ اُوښې میخې تمام
دا حکمونه دلته ټول دی دَ اسلام

چې يو تې وي دَ چيلي دَ پيو بند
قرباني په دي به نه کړي عقلمند
دغه عيب دے عيب نه بچ اُوسه مدام
دَ حکمونو دَ اسلام کړه احترام

## خنثیٰ

نه چې نر او نهٔ ماده وي نو خُنثیٰ وي
قرباني په دي سره به څنګ روا وي
اتفاق په دي دَ ټولو علماء دے
ځناور دغه عيب دار دے ناروا دے

## پوزه

پوزه کټ لري چې هغه ځناور
قرباني ورسره نه دي کړي بشر

## غوږونه

چې پيدا شي ورسره نه وي غوږونه
ناروا دے، ياد ساته دغه حکمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تې

تـــې چـــې كـــټ دَ څـنـــاوروى ښـــه پـــه ســـر
قـــربـــانـــى ورســـره نـــه دي كـــړى بشـــر
څـنـــاور دغـــه عيـــب دار تـهـــول پـــه جهـــان دى
ښـــه خبـــر لـــه دوى نـــه دلتـــه هـوښيـــاران دى
دَ احـــمـــد ويـــنـــا وړه ښـــه مـــخـتـصـــر ده
خــو تــلــلــو كښــي پـــه تــول ښـــهٔ بـرابـــر ده

..............................

...........................

.....................

............

.....

..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ کتاب دویمه برخه

# نظمونه

................................

## لوئي اختر دے اے ملګرو! راروان

لوئي اختر دے اے ملګرو! راروان
قرباني به په کښي وی په هر مکان
طریقه دَ ابراهیم علیه السلام ده
طریقه دَ مُسلمانو دَ امام ﷺ ده
دا واجب ده په مالداره مسلمان
لوئي اختر دے اے ملګرو! راروان
په مالداره لازم کړے شریعت ده
لازم کړے پاك اللّٰه ربُّ العزت ده
دَ وَالنُحَرْ دے نښۀ ښکاره واضح اعلان
لوئي اختر دے اے ملګرو! راروان
دَ نصاب برابر مال لری چي څوك
په حساب برابر مالك لری چي څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربانی به کوی بیا هغه انسان
لوئې اختر دے اے ملګرو! راروان
یو نصاب ئې دَ وړه نیمو تولو سرو دے
حکم هریو دَ مولا دَ خکلیدو دے
ښه پوهیږی په دي دا ټول عالمان
لوئې اختر دے اے ملګرو! راروان
بل دوه نیم پنځوس دَ سپین زرو نصاب دے
یا قیمت دَ سپینو زرو په حساب دے
دغه حکم دے دَ نمر په شان عیان
لوئې اختر دے اے ملګرو! راروان
یا سامان دَ تجارت لری بشر
قیمت رَسی ئې نصاب ته دَ سپین زر
واجبیږی قربانی په دي سامان
لوئې اختر دے اے ملګرو! راروان
ګناهونه ورسره دلته رژیږی
په دي لوئې مرتبې هم ملاویږی
په دي کلك دلته یقین ساتم ایمان
لوئې اختر دے اے ملګرو! راروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنانه يا نارينه چې وی مالداره
کوی هريو قرباني چې وی هوښياره
دَ احمدعلي دے حق پوره بيان
لوئي اختر دے اے ملګرو! راروان

.................................

## قرباني پکار ده

په ښه کارونو کښې سيالی پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده
قرباني ده دَ خوږ نبي ﷺ طريقه
قرباني ده دَ هر ولي طريقه
هريو ولي سره دوستي پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده
آغاز شوروئي له هابيل نه وروره!
آغاز شوروئي له هابيل نه ګوره!
ورله په شوق ښة تياری پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده
دَ ابراهيم عليه السلام طريقه
دَ هريو نيك عالم امام طريقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خپل امام تابعداري پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

پټ دی په دې کښې رحمتونه ښه ډير
ثواب بدله په دې اجرونه ښه ډير

خه لږ محنت لږه خواری پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

احمده! ښه عمل دے، دا به کوو
که وی تقدير کښې، خامخا به کوو

په ښکلي شان ښه بندګی پکار ده
لوئي اختر راغے قرباني پکار ده

................................

## قرباني

مئين دے په الله او په نبی ﷺ
دُنيا کښې چې کوی څوك قرباني

شته په دې سره اجرونه
شته ورسره برکتونه

شته بدله ئې رحمتونه
شته بدله ئې جنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چـــي دلتـــــه كښـــي هـــم څـــوك كـــوي
مـــنئيـــن دے پـــــه الـــلّـــــه او پـــــه نبـــي ﷺ

مـــــــة پــــريــــــږده ئــــي وروره ! دلتـــــــه
اے دَ ستـــــــرګـــــو تــــوره ! دلتـــــــــه
اے دَ زړه تہـــــــكـــــــوره ! دلتـــــــــه
بـــيج كـــــړه ځـــــان لـــــــه اُوره دلتـــــــه

ښـــــــه ده پـــــــه دُنيــــــا اعـــلا نيـــكـــي
مـــنئيـــن دے پـــــه الـــلّـــــه او پـــــه نبـــي ﷺ

حـــــكــــــم دَ مـــــــولا دے دغــــــــه
حـــــكــــم ښــــــة صـــفـــــا دے دغـــــه
حـــــكــــم ښـــــــة اعـــلا دے دغـــــــه
حـــق بيــــــان ريښتيـــــــا دے دغـــــــه

(وَالـــنُحَـــرْ) دے ايـــت قـــرانـــي
مـــنئيـــن دے پـــــه الـــلّـــــه او پـــــه نبـــي ﷺ

تـــــه كـــــة دَ نـــصـــــاب مـــــالك ئـــي
تــــــا بــــــانــــدي واجــــب دغــــــه ده
زة كــــــة دَ نـــصـــــاب مـــــالك يـــم
مــــــا بــــــانــــدي واجــــب دغــــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره ښه پوره قوي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

دا دَ مُرسلانو عمل
دا دَ امامانو عمل
دا دے دَ نيکانو عمل
دا دَ عالمانو عمل

دي سره تړلي بندګي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

کيږي په توفيق دَ رب
دَ نور او ښکلا سبب
نور رڼا دَ ورځ او شب
ښه ښکاره، صفا مطلب

دَ احمد وينا ښه قيمتي
منئين دے په الله او په نبي ﷺ

..............................

## قرباني په چا واجب ده؟

شوه مياشت دَ ذوالحجې، ده راروانه قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه! قرباني

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغاز او ابتدائي له هابيل نه په جهان ده
خبره ښه واضحه لکه نمر رڼا عيان ده
ده دين او شريعت کښې له پخوانه قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

دا لاره طريقه دَ ابراهيم عليه السلام ده
دا لاره طريقه دَ مُرسلانو دَ امام ﷺ ده
کوه دَ اللّٰه لار کښې څکه څوانه ! قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

دليل په دي خبره مي أيت دے دَ قران
کوثر سورت کښې ښهٔ ښکاره راغلے دے اعلان
(وَانْحَرْ) سره ثابت له قرانه قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

لري چي څوك ووه نيمي تولي سرهٔ په دي جهان
کوي به په دُنيا کښې قرباني هغه انسان
مالدار لره وروره ! ښه اسانه قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

مالك چي دَ دوه نيم پنځوسو سپينو دَ تولو وي
يا دومره دي مالك دَ اضافي رقم پيسو وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازم په دي صورت کښي وی انسانه ! قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

کوی مدام هغه، ورته توفیق چي ملاوېږی
احمده ! چي په دین په احکاماتو خوښ پوهېږی

انسان له بچ کوی له هر نقصانه قرباني
مالدار باندي واجب ده مسلمانه ! قرباني

.........................................

## قرباني نه کوی

مالدار چي وی او قرباني نه کوی
هغه دَ دین تابعداری نه کوی

ډېر بدنصیب دے بد نصیب دے هغه
هر یو شیطان ته بسه قریب دے هغه

خوک چي ددین سره یاری نه کوی
مالدار چي وی او قرباني نه کوی

ربَ تري خفه په هر مقام دلته وی
ربَ تري خفه سحر مابشام دلته وی

څکه چي حق سره دوستي نه کوی
مالدار چي وی او قرباني نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم دَ رب دے دَ (وَالنُّحَرْ) سره تل
ځان کړه دَ رب حکم سره دلته مَل
په دين عمل صرف باغي نه کوي
مالدار چي وي او قرباني نه کوي

مونځ له دي نه ځي دَ عيدګاه په طرف
رښا لره دَ يو مُلا په طرف
خوك پيروي چي دَ نبي ﷺ نه کوي
مالدار چي وي او قرباني نه کوي

دغه واجب په هر مالداره سړي
نه پاتي کيږي له هوښياره سړي
نادان دے کار چي دَ ولي نه کوي
مالدار چي وي او قرباني نه کوي

احمده! حق خبره تاليکلے
دا ستا خبره علما ليکلے
غافل نادانه بندګي نه کوي
مالدار چي وي او قرباني نه کوي

.....................................

.........................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا رانژدې دَ قربانو ورځې دی

اختـــر دے لـوئـې ، دَ خـوشـحـالـو ورځـې دی
بیـــا رانـــژدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی

دَ ابـــراهیـــم عـلیـــه الســلام یـــادونـــه
ورســـره دې پـــه هـــر مـــقـــام یـــادونـــه
دَ یـــادیـــدو دَ پـــخـــوانـــو ورځـــې دی
بیـــا رانـــژدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی

قـــربـــانـــی دې کـبـــې هــر مــالــداره کــوی
قـــربـــانـــی دې کـبـــې هــر دیــنــداره کــوی
دَ خـــونـــد نـــه ډکـــې دَ مـــزو ورځـــې دی
بیـــا رانـــژدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی

چـــا بـــه دَ اُوښ وی قـــربـــانـــی نیـــولـــے
حـــکـــم ئـــې کـــلـك بـــهٔ نـــورانـــی نیـــولـــے
چیـــلـــې ، دَ ګـــډ حـــلالیـــدو ورځـــې دی
بیـــا رانـــژدې دَ قـــربـــانـــو ورځـــې دی

چـــا بـــه څـــنـــډا ، چـــا بـــه وی غـــوا اخستـــې
لـــه عیـــب نـــه پـــاکـــه بـــه اعـــلا اخستـــې
دَ یـــو بـــل نـــه دَ زاریـــدو ورځـــې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیــــا رانــــزدي دَ قـــربــــانــو ورځـــي دی

وارۀ او لـوئـي پـــه خـوشـحــالـو کښـي پـتـ دی

پـــه دعــوتـونــو پـــه مــزه کښـــي پـتـ دی

دَ لـــــویـــو لـــویـــو ، دَ وړو ورځــــــي دی

بیــــا رانــــزدي دَ قـــربــــانــو ورځـــي دی

دوستـــا ن بـــه ځـــی دَ سیــل چـکـــر دَ پـــاره

لیـــدلــو لــــه حسیـــن مـــنـظـــر دَ پـــاره

دَ یـــو بـــل نـــــه دَ خبــــریـــدو ورځــــي دی

بیــــا رانــــزدي دَ قـــربــــانــو ورځـــي دی

غـــمـــونـــــه ختـــم شـــول دَ هــــر بشــــر

فـــکــــرونــــه ختـــم شـــول دَ هــــر بشــــر

احـــمـــده ! دَ ژونـــد دا یـــو ښـــو ورځــــي دی

بیــــا رانــــزدي دَ قـــربــــانــو ورځـــي دی

........................................

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وعونه

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك

انت التواب الرحيم وصلى اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه

محمد واله واصحابه اجمعين . آمين يارب العٰلمين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**